
# شپږمیاشتنی رپوټ

## د ۲۰۱۷ له جولای نه تر ډسمبر پورې

AJSC

Afghan Journalists Safety Committee

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه



د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

د ۲۰۱۷ د جنوري ۱۱مه

## اړلیک


پیلامه........................................................................................................................ ۱

د تاتریخوالو شمیرې او ډولونه یې.................................................................................. ۲

د تاوتریخوالو عاملین.................................................................................................... ۳

د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د زیاتیدو علتونه .................................................... ۴

د خبریالانو په وړاندې د داعشیانو مستقیم تاوتریخوالي او گواښونه ................................. ۴

د خبریالانو اساسي اړتیاوې او د حکومت د جدي اقداماتو ضرورت ..................................... ۵

د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو پر وړاندی د رسنیو مسوولیتونه ................................... ۵

د رسنیو او خبریالانو له ملاتړو ادارو نه زیاتې هیلې ....................................................... ۵

د ځوهغو قضیو بیلگې چې د ۲۰۱۷م کال په ورستیو شپږو میاشتو کې پیښې شوې دي ......... ۶

د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب گډه کمیټه................................................................... ۷

لاسته راوړنې.................................................................................................................. ۷

ستونزې او خنډونه ........................................................................................................ ۸

د ټولیزو خصوصي رسنیو د فعالیت او تاسیس مقررې د نه عملي کیدو علتونه.................... ۹

پایله.............................................................................................................................. ۹

سپارښتنې..................................................................................................................... ۱۰

## پیلامه

په هیواد کې د ناامنیو او بې ثباتیو ډیریدو د خبریالۍ په برخه کې خپلې مستقیمې اغیزې پریښې دي. د خبریالانو پروړاندې بې مخینې ګواښونو او تاوتریخوالو د رسنیو او بیان د ازادۍ د پایښت او سلامتیا په برخه کې خورا ډیرې اندیښنې رامنځته کړې دي، څکه چې د بیان او رسنیو ازادي او د رسنیو زیاتیدا په تیرو شپاړسو کلونو کې د هیواد له خورا مهمو لاسته راوړنو څخه شمیرل کیږي. د رسنیو پر وړاندې ګواښونه د هیواد د یوې سترې لاسته راوړنې پروړاندې ګواښ بلل کیږي.
له بل لوري هغه د ساه ډوبې حالت چې تاوتریخوالو او د ترهګرو ډلو ډیروالي رامنځته کړی، د معلوماتو د وړاندې کولو فضا لا زیاته پیچلې کړې ده او خبریالانو او رسنیو ته یې د معلوماتو د رسولو رسالت لا پسې جدي کړی دی. په داسې یوه حالت کې باید خبریالان او رسنۍ له بل هر وخته لا زیات په احتیاط سره عمل وکړي چې د بیلا بیلو جنګي ډلو د تبلیغاتو وسیلې ونه ګرځي.
دخبریالانو او رسنیو پر وړاندې د داعش ډلې د ګواښونو زیاتیدو د خبریالانو او رسنیو د امنیت په برخه کې جدي اندیښنې رامنځته کړې دي. هغه څه چې د جدي اندیښنو لامل شوي ددغې ډلې مستقیم بریدونه دي چې په ۲۰۱۷کال کې د رسنیو پر وړاندې ترسره شوي دي او د خبریالانو د وژنو د ډیری پیښو مسوولیت هم همدغې ډلې ته ورلغاړې دی.

دا د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې لسم رپوټ دی چې په ۲۰۱۷کال کې دخبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي شمیرې چې د کمیټې له خوا ثبت شوي دي وړاندې کوي. دغه رپوټ کې د خبریالانو د خوندیتوب د حالت پر لنډې مطالعې سربیره په ۲۰۱۷کال کې د خبریالۍ د کار او د معلوماتو د رسونې مهمو مواردو باندې هم بحث شوی دی. د یادونې ده چې دلته قضیې د کمیټې د هغې پالیسۍ له مخې ثبت شوې دي چې کمیټه یې د خبریالانو او رسنیو پروړاندې دتاوتریخوالو د پیښو د ثبت په اړه لري او یوازې د تاوتریخوالو او ګواښونو هغه پیښې ثبت شوې دي چې دخبریالۍ د کار په خاطر یا د خبریالۍ د کار په لړ کې رامنځته شوې دي.


۲۰۱۷ کال د افغانستان په تاریخ کې خبریالانو ته تر ټولو خونړی کال ګڼل کیږي. په دغه کال کې نه یوازې دا چې د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو شمیر د پام وړ لوړ شوی بلکې د خبریالانو د وژنو او د رسنیو پروړاندې دهدفمندو بریدونو کچه هم په بې مخینې توګه جګه شوې ده. په ۲۰۱۷ کال کې په ټوله کې د خبریالانو پر وړاندې د ګواښ او تاوتریخوالي ۱۶۹ پیښې ثبت شوې دي چې له دغې جملې نه ۲۰یې د خبریالانو د وژل کیدو پیښې دي. ددغو ټولو ګواښونو او تاوتریخوالو له جملې نه ۱۲یې د میرمنو پر وړاندې شوي دي.

په دغه کال کې د تاوتریخوالو د شمیرو لوړیدا د ۲۰۱٦کال د شمیرو په پرتله ٦۷سلنه زیاتوالی ښیی. په ۲۰۱٦ کې کمیټې دخبریالانو پروړاندې د ګواښونو او تاوتریخوالو ۱۰۱پیښې ثبت کړې وې. د خبریالانو د ژنو شمیره هم ۵۴٪ لوړه شوې ده.په ۲۰۱٦ کال کې کمیټې دخبریالانو د وژل کیدو ۱۳پیښې ثبت کړې وې. د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو د شمیرو په ځانګړې توګه د وژنو د شمیرو لوړیدا د دوی د خوندیتابه په اړه جدي اندیښنې رامنځته کړې دي. ترهګرې ډلې د خبریالانو د وژل کیدو د ټولو پیښو مسوولیت په غاړه لري. داعش ډله د ۱۸پیښو او طالبان د دوو هغو پېښو په غاړه لري. په دې کال کې همداراز د سلنې له مخې د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو لوړه کچه همدغو ترهګرو ډلو ته ورګرځي چې ۱۵سلنه کیږي. حکومتي کسان بیا په دویمه درجه کې دي او د ۴۳٪ تاوتریخوالو مسوولیت دوی ته ور په غاړه دی. د ترهګرو ډلو له لوري د ترسره شویو تاوریخوالو تناسب نظر تیرکال ته ۲۸٪ لوړ شوی دی. تیرکال دغو ډلو چې د طالبانو او داعش ډلې پکې راځي د ۲۳٪تاوتریخجنو پیښو مسوولیت په غاړه درلود خو په ۲۰۱۷ کې دغه کچه ۵۱٪ ته لوړه شوې ده. په ۲۰۱۷ کال کې د تاوتریخوالو ډیرې پیښې د پلازمینې او کابل شمال زون کې رامنځته شوې دي او تر ټولو لږې یې بیا په سول ختیځ زون کې وې.


## د تاتریخوالو شمیرې او ډولونه یې

- ۱۲٪ — وژنې۲۰مورده
- ۱۹٪ — سپکاوی او بد چلند ۳۲مورده
- ۱۳.۶٪ — وهل ټکول۲۳مورده
- ۳۶٪ — ټپي کېدل ۶۱مورده
- ۳.۵٪ — له کاره شړل ۶مورده
- ۹٪ — ګواښ ۱۵مورده
- ۷٪ — نیونې ۱۲مورده


## ۱۲مورده میرمنې او ۱۵۷مورده نارینه



## د تاوتریخوالو عاملین




## د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو شمیرې د افغانستان د بیلابیلو زونونو په اساس




پورتنیو شمیروته په پام سره ویلی شو چې د هرکال په تیریدو سره دخبریالانو د امنیت او خوندیتوب وضعیت مخ په خرابیدو او اندیښمنونکی دی. په ځانګړې توګه چې په ۲۰۱۷ کال کې دغه تاوتریخوالي هدفمند شوي دي او له یوې خوا د دولت وسله وال مخالفین رسنۍ په مستقیمه توګه په نخښه کوي او له بلې خوا د حکومت او خپله رسنیو له خوا دهغوی د امنیت د خوندیتابه په پار جدي تابیاوې نه دي نیول شوي.

## د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د زیاتیدو علتونه

دخبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو د زیاتیدو اصلي علتونه کیدای شي په درې عواملو کې مطالعه کړو، لومړی د معافیت فرهنګ، دویم د ترهګرو ډلو له خوا هدفمند بریدونه او د رسنیزو بنسټونو په نخښه کول او دریم د ټول هیواد په کچه د بې ثباتیو او نا امنیو زیاتیدل. ۲۰۱۷ کال کې هم د تیرو کلونو په څیر زیاتره د تاوتریخوالو پیښې د دولتي منسوبینو او یاهم ترهګرو ډلو لخوا چې افغان دولت سره په جنګ دي ترسره شوې دي. ترهګرو ډلو ته تر ډیره د خبریالانو د وژلو او ټپي کولو مسوولیت ورپه غاړه دی او د ګواښنې ، وهل ټکولو او نیونو مسوولیت بیا حکومتي کارکونکو ته ورګرځي.

سره له دې چې د حکومت مشرانو د خبریالانو د خوندیتوب د تامین او رسینو سره د همکارۍ په تړاو ډیرې وعدې کړې دي او یو شمیر حکمونه او لارښوونې یې هم خپلو کارکونکو ته کړې دي، خو دغو ټولو اقداماتو هم د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو په کمولو کې په زړه پورې پایله نه ده لرلې. اصلي علت یې هم ددغو حکمونو او لارښوونو منظم او دقیق نه عملي کول دي.

سره له دې چې په ۲۰۱۷ کال کې د حکومت له لوري یو شمیر ګامونه په دې برخه کې اخستل شوي په ځانګړې توګه د کورنیو چارو وزارت د ګډې کمیټې له خوا د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو یوشمیر پیښې څیړل شوې دي خو لاهم  حکومتي کارکونکو سره له مجازاتو د معافیت فرهنګ په اړه ذهنیت موجود دی. د تاوتریخوالي د فرهنګ د رآکمولو یا ورکولو لپاره دا لازمي ده چې د تاوتریخوالو پیښې په جدي توګه تعقیب شي او پرته له دې چې دا په نظر کې ونیول شي چې عامل یې په کوم موقف کې دی له قانون سره سم سزا ورکړل شي.

دخبریالانو پروړاندې د مستقیمو بریدونو زیاتیدل په ځانګړې توګه هغه بریدونه چې د داعشیانو له خوا ترسره کیږي د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي له اصلي لاملونو څخه دي. په وروستي ځل داعش ډلې په دوو میاشتو کې په یوې رسنۍ او یوه فرهنګي مرکز چې هلته یوه رسنۍ هم موجوده وه برید وکړ چې له امله یې اته کسه خبریالان او رسنیز کارونکی ووژل شول.

د کمیټې د تحلیل له مخې، ترهګر په څو دلیلونو پر رسنیو بریدونه کوي. لومړی دا چې رسنۍ د ترهګروډلو دهغو نا مشروع غوښتنو پروړاندې چې غواړي خبرونه او پیغامونه یې خپاره شي نرمښت نه ښیي، بیا دغه ډلې هماغه رسنۍ په نخښه کوي، یو مثال یې هم په ننګرهار کې په کلید راډیو د داعشیانو برید دی چې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبرمیاشت کې وشو. بل دلیل یې هم دادی چې د رسنیو خبرونه او خپرونې د ترهګرو له ذوق او ستراتیژیکو هدفونو سره برابر نه وي. د بیلګې په توګه طالبانو او داعشیانو په بیلابیلو ولایتونو کې رسنۍ مجبوره کړې دي چې یو شمیر موارد لکه د ښځینوو غږ، سندرې، د امنیتي ځواکونو اعلانونه او د سولې پروسې پورې اړوند اعلانونه خپاره نه کړي. یو بل علت چې خبریالان او رسنۍ یې له جدي ګواښ سره مخ کړې دي دا دی چې د نظام وسله وال مخالفین او تروریستان له دې ویریږي چې رسنۍ خلکو ته د ټولنې د عیني حقایقو په اړه د معلومات ورکوي او د ترهګرو د غیر انساني کړنو په اړه هم هغوی خبروي. ترهګر اوس دې پایلې ته رسیدلي دي چې د نظام پر وړاندې دهغوی ادعاوې، اوازې جوړول، د دروغو معلومات ورکول، پروپاګنډا اوددولت پروړاندې د دوی منفي تبلیغات د ریښتونو او بې پرې رسنیو په موجودیت کې د خلکو په ذهنونو باندې هیڅ ډول اغیز نشي لرلای. یوازینۍ وسیله او لار چې خلک له هغې لارې په ځانګړې توګه په لیرې پرتو سیمو او کلیو کې دقیق او سم معلومات ترلاسه کوي او د ترهګرو ډلو تبلیغ بې اغیزې کوي د فعاله او بې پرې رسنیو موجودیت دی . له ټولو بیامهم ټکی دا دی چې رسنۍ د ټولنې د تنویر اود ذهنونو د روښانه کولو برخه کې خورا مهم رول لري او دا هغه څه دي چې ترهګرې ډلې بیا خپله ګټه پکې نه ګوري .

سره له دې چې ترهګر له ټولونه زیات او ښه پوهیږي چې خبریالان او رسنۍ په بې پرې او بیطرفه توګه معلومات شریکوي او هغه څه چې پیښیږي هغه خپروي خو دغه بې پریتوب هم په خپل زیان بولي. د بیلګې په توګه: د دولت وسله وال مخالفین په یوه لوی ښار کې د عامو خلکو په ګڼه ګوڼه کې ځانمرګی برید کوي ، وروسته بیا ادعا کوي چې په دغه برید کې یې لسهاوو بهرني یا کورني سرتیري وژلي. په داسې حال کې چې خبریالان د پیښې له سیمې رپوټ ورکوي چې د ترهګور په دغه ځانمرګي برید یا چاودنه کې لسهاوو عام خلک وژل شوي او ټپیان شوي او هیڅ بهرني یا کورني سرتیري ته پکې زیان نه دی اوښتی.

د داعش او طالبانو ترهګرې ډلې چې تر ډیره پرخبریالانو او رسنیو د برید مسوول ګڼل کیږي له ظاهري او شکلي اړخه یو څه توپیر سره لري خو د لید لوري له مخې او پر عامو خلکو د بریدونو له اړخه هماغه یوه لار تعقیبوي چې عبارت ده د خلکو ترمنځ د رعب او ویرې رامنځته کول او د وحشت او دهشت اچول او دغه راز هغو بنسټونو ته زیان اړول چې د خلکو ذهنونه روښانه وي او د عامه تنویر او روڼ اندۍ چارې پر مخ وړي.

طالبان تر ډیره په عامه ځایونو او ملکي وګړو برید کول ردوي په داسې حال کې چې د ملکیانو د مرګ ژوبلې ډیری پیښې هغوی ته نسبت ورکول کیږي، خو د داعش تر نامه لاندې بله ډله بیا چې اصلاً کومه مشخصه داعیه نه لري تر ډیره ددغه شان بریدونو پړه منې چې ګواکې دغه ډله ددې لپاره رامنځته شوې چې دهغو بریدونو مسوولیت ومني کوم چې طالبان یې نشي کولی له سیاسي اړخه او په ښکاره توګه پړه ومني.

## د خبریالانو په وړاندې د داعشیانو مستقیم تاوتریخوالي او ګواښونه

دغې ډلې په ۲۰۱۷ کال کې کم له کمه درې ځله په مستقیمه توګه پر رسنیو بریدونه کړي دي او څو ځلې یې هم د عامو خلکو پر غونډو بریدونه کړي دي چې په دغو بریدونو کې شاوخوا ۱۸کسه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي وژل شوي او شاوخوا ۵۰ نور ټپیان شوي. دا چې ولې دغې ډلې پرخبریالانو او رسنیو خپل بریدونه ډیر کړي دي دوی یې دلیل نه دی ویلی ، خو کمیټه په دې باور ده چې داعش د خبریالانو او رسنیو ترمنځ د ډار، ویرې او وحشت د رامنځته کولو لپاره دغه کار کوي ترڅو رسنۍ د داعش د کړغیړنو خبرونو په اړه چوپه خوله پاتې شي. په پراخه توګه د خبرونو د سرټکو اخیستل ممکن ددې ډلې بل هدف وي چې پر رسنیو برید کولو سره یې تعقیبوي. داعشیان په ننګرهار ولایت کې د خلافت په نامه یوه راډیو لري، تراوسه دوه ځلې دغه راډیو د افغان او بهرنیو ځواکونو له لوري په نخښه

شوې ده خو بیاهم دغه ډله توانیدلې چې خپله راډیو د جلال اباد ښار څنډو کې فعاله وساتي او خپرونې وکړي. دغه راډیو دولت ضد تبلیغات خپروي او هم په ځانګړې توګه خبریالانو ته ګواښونه کوي او خبرداری ورکوي چې دهغوی له خوا به په نخښه شي او وبه وژل شي. ان په ډیری مواردو کې د پیژندل شویو خبریالانو نومونه هم په دې راډیو کې اخستل کیږي.

## د خبریالانو اساسي اړتیاوې او د حکومت د جدي اقداماتو ضرورت

د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د ګواښونو او تاوتریخوالو بې مخینې زیاتیدو ته په کتو سره، حکومت باید د رسنیو د ودانیو د امنیت د خوندیتوب لپاره لازم ګامونه پورته کړي او امنیتي مسوولین باید د رسنیو له مسوولینو سره د همغږۍ منظم میکانیزمونه رامنځته کړي، رسنیو ته د ګواښونو په اړه معلومات په وخت او وار دمخه رسنیو سره شریک کړي، له هغو نه د خپلو رسنیو او خبریالانو د امنیت د خوندي کولو په اړه معلومات ترلاسه کړي، لازم اقدامات ترسره کړي، لازمې سپارښتنې او لارښوونې ورسره شریکې کړي. کشفي او استخباراتي ادارې باید په ځانګړې توګه هغه رسنۍ چې د ګواښونو له لوړې ګراف سره مخې دي د ترڅار او ترصد لاندې ونیسي تر ډیره د پیښې د مخنیوي او وقایې په اړه یې کار وکړي.
د امکان په صورت کې ان باید دهغو رسنیو د خبریالانو او رسنیو د کارکونکو د تګ راتګ لارې او مسیرونه تر ارزونې او څارلاندې ونیول شي چې له لوړ ګواښ سره مخ دي، که چیرې نورې همکارۍ ممکنې نه وي لازمې سلا مشورې او تخنیکي لارښوونې دې ورسره شریکې شي .د امنیتي ادارو جدي اقدامات کولای شي د رسنیو او خبریالانو د امنیت د ټینګښت په برخه کې خورا ډیرې او مهمې اغیزې ولري.

## د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو پر وړاندی د رسنیو مسوولیتونه

رسنۍ پخپله هم د خپلو خبریالانو او کارکوونکو د امنیت او ساتنې مسوولیت لري. دا نه یواځې د دوی اخلاقي او اداري مسوولیت دی بلکې د رسنیو  قانوني مکلفیت هم دی. د خصوصي رسنیو د تاسیس اوفعالیت د مقررې له مخې رسنۍ مکلفې دي چې د خپلو خبریالانو او کارکوونکو امنیت پخپله ونیسي. د بیلګې په توګه ، په تخنیکي او مسلکي ډول  د رسنیو د ودانیو د خوندیتوب او امنیت ساتنه ، نه په هغې بڼه چې دوی پخپله فکر کوي ، د رسنیو د څښتنانو او مسوولینو له مهمو مکلفیتونو او دندو څخه شمیرل کیږي. حکومت هم د رسنیو پر وړاندې مکلفیت لري چې په هیواد کې امنیتي وضعیت ته په کتو هر وخت رسنیو ته د دوی د ودانیو د ساتنې اود دوی د خبریالانو او کارکوونکو د خوندیتوب او امنیت لپاره لازمې لارښوونې وکړي.

د جګړې لمړۍ کرښې او یا هم نا امنو سیمو ته د خبریالانو لیږل باید د دوی او د دوی د کورنیو په رضایت وشي او هم د ځان ساتنې ټول لوازم ورته  په واک کې ورکړل شي.

رسنۍ مکلفې دي، خپلو هغو خبریالانو ته چې نا امنو سیمو ته د دندې لپاره ځي د ځان ساتنې لازمې زده کړې ورکړي او یا یې هم د خبریالانو خوندیتوب کمیټې ته د زده کړې په موخه ولیږي. هغه خبریالان چې نا امنو سیمو ته سفر کوي باید د یادې سیمې له حالاتو معلومات ولري او هم د هرډول ناوړو پیښو دپیښیدو احتمال په پام کې ولري .

په رسنیو کې د امنیتي مسوولینو او ساتونکو په توګه د تخنیکي، مسلکي او مجربو اشخاصو شتون  او هم د هغو ادارو او  بنسټونو لازمې مشورې اخیستل چې د شرکتونو او ادارو د امنیت او خوندیینې په موخه کار کوي د رسنیو  او د دوی د کارکوونکو  پر وړاندې د خونړیو پیښو د مخنیوي په برخه کې اغیزناکې ثابتیدلی شي.

د بیمې نه شتون، تقاعد او یا هم هر بل امتیاز چې د خبریال د کاري دورې په پای ته رسیدو پورې اړه ولري او یا هم د کار په جریان کې  د خبریال یا رسنیو د کارکوونکو معلول کیدل اووژل کیدلو په صورت کې ورکړل شي. دا هغه ستونزې دي چې خبریالان او د رسنیو کارکوونکي ورسره تل لاس او ګریوان وي.

رسنۍ کولای شي یوه اندازه پیسې په یوځانګړي حساب کې د خپلو کارکوونکو لپاره د همدې ورځې په موخه ذخیره او اړتیا پر مهال ورڅخه استفاده وکړي.

دا هغه ستونزې دي چې خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د خپلې دندې نا خوندیینې تر څنګ ورسره مخ دي.

## د رسنیو او خبریالانو له ملاتړو ادارو نه زیاتې هیلې

د خبریالانو ملاتړ بنسټونه او ادارې چې د هیواد د نافذه قوانینو په رڼا کې فعالیت کوي، د ځینو ځانګړو موخو لپاره چې د خبریالانو او رسنیو ملاتړ او د هغوی د حقونو دفاع پورې محدود دي، کار او فعالیت کوي.

سربیره پر دې چې د یوشمیر دغو ادارو او بنسټونو کارونه ښایي تر یوه بریده  اغیزناک  نه وي خو بیا هم بی انصافي به وي چې په هیواد کې د خبریالانو، رسنیو او د بیان آزادۍ په اړه د دوی هڅې او هلې ځلې له پامه وغورځول شي.

په ځینو حالاتو کې خبریالان او ځینې منتقدین په دې اند وي چې ولې د رسنیو او خبریالانو ملاتړې ادارې او بنسټونه د خبریالانو ستونزې په هماغه لومړۍ شیبه کې  نه اواروي، خو دوی باید دې ته هم پام وکړي چې  دغسې ادارې او نسټونه حکومت سره موازي اجراییوي ځواک نه لري او نه هم د زور او فشار په واسطه کومه چاره ترسره کولای شي.

 رسنیو او خبریالانو څخه ملاتړ، د دوی د حقونو غوښتنه، زده کړې، او د خبریالانو، رسنیو او بیان ازادۍ څخه دفاع د دې ادارو له اساسي دندو څخه ګڼل کیږي چې په دې برخو کې ګڼې لاسته راوړنې هم لري. د بیلګې په توګه د رسنیو اړوند د قوانیونو تعدیل،  د معلوماتو د ورکړې او د خبریالانو د وضعیت د ښه کیدو په موخه د دولت د مشرتابه تر کچې بحث او په هیواد کې د قانون په چوکاټ کې د بیان ازادۍ لپاره هڅې او هلې ځلې.

اوس مهال په افغانستان کې له لسګونو داسې بنسټونو څخه شاوخوا پنځلس بنسټونه سره راټول شوي او د خبریالانو د حقونو لپاره په یوه خوله د ژورنالستانو د فدراسیون او د افغانستان د رسنیو له ادرسه، خبریالانو ته د عدالت غوښتنی غږ د حکومت تر غوږونو رسوي او هم د خبریالانو له حقونو د دفاع په موخه په ګډه کار کوي.

## د څوهغو قضیو بیلګې چې د ۲۰۱۷ م کال په ورستیو شپږو میاشتو کې پیښې شوې دي



د ۲۰۱۷ م کال د نوامبر میاشتې په ۷ مه نیټه پر شمشاد ټلویزیون د داعش وسلوالې ډلې په برید کې د دې رسنۍ یو کارکوونکی ووژل شو او ۲۵ تنه نور ټپیان شول. دوو تنو ځانمرګو بریدګرو هڅه وکړه چې د شمشاد ټلویزیون ودانۍ ته ننوځي خوبریالي نشول. روغتون ته د ټپیانو په لیږد کې کمیټې پوره همکاري وکړه او وروسته یې ددغې رسنۍ کارکوونکو ته د رواني فشارونو کمولو په موخه د رواني درملنې یوه دوره هم جوړه کړه.



د ۲۰۱۷ میلادي کال د سپټامبر میاشتې په ۲۷ مه د زن ټلویزیون یوه کارکوونکې چې د خپلې تنخوا غوښتنه یې کوله د ټلویزون د مسوول له بد چلند سره مخ شوه. کمیټې ته له شکایت کولو سره سم، کمیټې اقدام وکړاو موضوع یې تعقیب کړه. ددغې خبریالې تنخوا د کیټمې له ټینګار ورسته ورته ورکول شوه او ستونزه د کمیټې په منځګړیتوب د دواړو لوریو ترمنځ حل شوه.



د افغانستان ورځپاڼې یو تن خبریال د یو وکیل د کور مخې موانعو څخه د تصویر اخیستنې پر مهال د یاد وکیل د ساتونکو لخوا وهبول شو ،وروسته د نوموړي وکیل په کور کې د دریو ساعتونو لپاره بندي کړشو . کمیټې دغه موضوع له اړوندو حکومتي منسوبینو سره شریکه کړه او په دې بریالۍ شوه چې خبریال له بنده خلاص کړي . موضوع اوس هم د امنیتي ارګانونو لخوا تر څیړنې لاندې ده.



د شمشاد ټلویزیون یو تن خبریال په هلمند ولایت کې د ۲۰۱۷ م کال د سپټامبر په ۲۳ مه د هلمند ولایت د عامې روغتیا رییس سره په مرکه کې کله چې په یاد ریاست کې د فساد په اړه یې پوښتنه وکړه چې مدارک او اسناد یې هم ورسره وو نو د عامې روغتیا د رییس له بد چلند سره مخ شو، کیمره یې پرې بنده کړه او ښاغلي سروري ته یې سپکې سپورې وویلې . د دې قضیې په اړه د کمیټې د سویلي زون استازي له دواړو لورو سره ناسته وکړه او په پای کې د عامې روغتیا رییس د خپلې کړنې په اړه بخښنه وغوښته او خبریال هم له خپلې دعوې تیرشو.



د غرغښت راډیو یو تن خبریال په خوست ولایت کې د ۲۰۱۷ م کال د سپټامبر میاشتې په ۱۲ مې د ولایتي شورا د یو تن وکیل لخوا وګواښل شو. نوموړي د دغه وکیل په اړه پرخپل فسبوک پاڼه یو مطلب لیکلی و. د خوست ولایتي شورا غوښتل چې یاد خبریال څارنوالۍ ته معرفي کړي. دغه قضیه په خوست کې د کمیټې د استازي له خوا اواره شوه ، چې د دواړو لوریو د قناعت له تر لاسه کولو وروسته مکتوب بیرته مسترد شو.



د راه فردا ټلویزیون یو تن خبریال تقي سدید د ۲۰۱۷ م کال د نوامبر میاشتې په ۱۷ مه نیټه د عطا محمد نور د پلویانو یوې غونډې ته د خبرې پوښښ په موخه تللی و، هلته د ځانمرګي برید له امله ټپي شو، د کمیټې استازي د غازي امان الله خان روغتون (امنیت روغتون) ته د هغه د لیږدولو لپاره هڅه وکړه، هغه د امنیت روغتون ته انتقال کړل شواو دغه راز یې د بیړنۍ درملنې په موخه وسره مالي مرسته هم وکړه.

په ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ میلادي کلونو کې د خبریالانو او رسنیو پروړاندې ګواښونه ، تاوتریخوالي او په ځانګړې توګه د ترهګرو ډلو بریدونه زیات شول چې د خبریالانو لپاره د بشپړ خوندیتوب اړتیا لا ډیره اړینه شوه. د کندز ولایت دوه پلا سقوط او له هلمنده د یو شمیر خبریالانو وتلو او نورو سیمو ته پنا وړلو دا اړتیا بیخي ډیره کړه چې د خبریالانو لپاره جدي امنیتي تابیاوې ونیول شي. دې موخې ته د رسیدو لپاره د ژورنالستانو د فدراسیون له لورې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب طرزالعمل جوړ او د کابینې لخوا تصویب شو، د همدې طرزالعمل پر بنسټ په ۲۰۱۷ م کال کې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب ګډه کمېټه رامنځته شوه.

په دې کمېټه کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې د استازي په ګډون، د خبریالانو د فدراسیون شپږ تنه ، د امنیتي ادارو ، لویې ځارنوالۍ ، بهرنیو چارو وزارت او سیمه ییزو ارګانونو لوړپوړي غړي، کابل والي او د امنیت شورا استازي غړیتوب لري چې مشري یې د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش په غاړه لري.

دغه راز دوه نور جوړښتونه هم رامنځته شول، یو د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د همغږۍ کمیټه او بله د ملي امنیت د لوی ریاست په چوکاټ کې له خبریالانو او رسنیو د ملاتړ کمیټه.

دا کمیټې د داسې جوړښتونو په توګه رامنځته شوې چې خپل ریپوټونه به حکومت او ګډې کمیټې ته وړاندې کوي دغه راز په ولایتونو کې د والي د مرستیال په مشرۍ هم ګډې کمیټې جوړې شوې او په فعالیت یې پیل وکړ.

د ګډې کمیټې کار په دوو برخو کې رالنډولی شو.

۱-لاسته راوړنې

۲-ننګونې

## لاسته راوړنې

ګډه کمیټه په دې توانیدلې ده چې د یوه کال په موده کې د پام وړ او څو لوی کارونه ترسره کړي خو اړتیا ده چې لا زیات نور کارونه هم وکړي،د دې کمیټې د لاسته راوړنو یوه بیلګه د خبریالانو د هغو دوسیو څیړل دي چې خبریالان تاوتریخوالي سره مخ شوي وو او د تیرو لسو کلونو راپدیخوا یې دوسیې نه وې څیړل شوې.

دغه دوسیې چې شمیر یې ۷۰۰ ته رسیده ، د ګډې کمیټې لخوا د رامنځته شوې مختلطې کمیټې له لورې وارزول شوې. په مختلطه کمیټه کې د فدراسیون دوه تنه، د لویې ځارنوالۍ ، د ملي امنیت عمومي ریاست او کورنیو چارو وزارت استازو برخه لرله.

دې کمیټې څو میاشتې کار وکړ او په پای کې یې خپل کاري ریپوټ د ګډې کمیټې اوومې غونډې ته وړاندې کړ.

د دې کمیټې د ریپوټ پر بنسټ له ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۱۵ کلونو پورې له ۷۰۰ دوسیو څخه ۱۷۲ دوسیې مشخصې او د څیړنې وړ وښودل شوې.

نورې دوسیې له دې امله چې یا د وخت د اوښتو حقوقي قاعدې لاندې راغلې وې یا یې د تاوتریخوالي عاملین ترهګرو ډلو پورې اړوند وو او یا هم مدعي له خپلې دعوې انصراف کړی و، د څیړنې وړ ونه ګڼل شوې.

د ګډې کمېټې وروستی راپور ښیي چې د ۱۷۲ قضیو له جملې نه ۳۳ دوسیې بشپړې شوي او د لا زیاتو څېړنو لپاره د افغانستان لویې ځارنوالۍ ته لېږل شوې دي.

د لویې ځارنوالۍ د راپور په بنسټ د ۳۳ قضیو له ډلې ۲۳ دوسیې چې د خبریالانو د وژنې قضیې هم په کې شاملې وې په وروستیو کلونو کې په اړه څېړنې شوې او محاکمو ته لېږل شوې دي او یا هم په وروستیو کې دا قضیې تکمیلې شوي او د حکم ورکولو په موخه محاکمې ته لېږل شوې دي.

۱۸ پاتې نورې قضیې لا هم د افغانستان په لویه ځارنوالۍ کې د څېړنو لپاره پرتې دي. د یادونې وړ ده، چې یو شمېر دوسیې د ولایتونو مربوط وې، چې باید د ولایتونو ځارنوالۍ یې تکمیلې او حل کړي . له همدې امله به د دې دوسیو څېړنه یو څه زیات وخت ونیسي. د افغانستان لویې ځارنوالۍ د هېواد د ټولو ولایتونو ځارنوالیو ته لارښوونه کړې، چې ژر تر ژره خبریالانو پورې اړونده دوسیې بشپړې کړي او محاکمو ته یې ولېږي.

همدارنګه د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو د قضیو د څېړنې فرعي کمېټې د راپور له مخې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۴۰ قضیې د مصلح وګړو په منځګړیتوب حل شوي او زیانمن خبریالان د دوسیو له تعقیب نه تیر شوي دي.

د ۱۷۲ قضیو له جملې نه ٦۹ قضیې یې د مشخصو شویو بنسټونو او افرادو دي، چې کورنیوچارو وزارت یې له تعقیب او پلټنو عاجز دی. په دې دوسیو کې یوشمیر قاضیانو، ځارنوالان، د ملي شورا غړي، د ولسمشرۍ ماڼۍ ساتونکي او په افغانستان کې مېشت بهرني سرتېري د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي عاملین یاد شوي دي.

د ګډې کمېټې بله لاسته راوړنه د خبریالانو او رسنیو ستونزو، شکایتونو او د دوی پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښو ته په بېړه حل لاره کتل دي او پر وړاندې یې لازم اوجدي تابیاوې نیول دي.

د تېر کال له سلواغې میاشتې را په دې خوا دې کمېټې د خبریالانو او رسنیو د کارکونو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۴۹ قضیې ثبت کړي، چې ۳۶ هغه یې په بېلابیلو بڼو حل او اوارې شوې دي.

له دې جملې نه ۱۳ دوسیې د ځینو اسنادو پشپړوای ته اړتیا لري او یا هم د کشفي بنسټونو تر پلټنو او څېړنو لاندې دي، چې ددې دوسیو له تکمیلېدو وروسته به هغه لویې څارنوالی ته ولېږل شي.

له دې سره سره چې په هېواد کې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې تاوتریخوالي او ګواښونه ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو دي، خو ګډه کمېټه توانېدلې چې له امنیتي بنسټونو څخه د خبریالانو او رسنیو د فزیکي امنیت د ټینګښت غوښتنه وکړي.

له دې جملې کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست لږ تر لږه د لسو رسنیو د امنیت خوندیتابه په خاطر چې له لوړو امنیتي ګواښونو سره مخ وي، ځانګړې تدابیاوې نیولې دي.

همدا راز د ځینو رسنیو د مسوول مدیرانو د فزیکي امنیت هڅه هم شوې او د ځینو رسنیو مشهورې خپرونې چې عملاً د برېدونو تر ګواښ لاندې وې، د تروریستانو د حملو د مخنیوي په موخه ورته لازمې امنیتي تیاری نیول شوې دي.

د امنیتي کسانو د ناسم چلند د مخنیوي په موخه یوه بله فرعي کمېټه رامنځته شوې، ترڅو له تروریستي او د ناامنیو له پېښو څخه د راپور ورکونې پر مهال یوه طرحه جوړه کړي او د دې طرحې له مخې بیا دا کمېټه خپل راپورونه ګډې کمېټې ته وړاندې کړي. د دې کمېټې له جوړېدو سره به هڅه وشي چې رسنیو ته  زمینه برابره شي، ترڅو په خپلواکه توګه پرته له دې چې له کوم ګواښمن چلند او یا هم امنیتي ګواښ سره مخ شي راپورونه برابر کړای شي.

همدا  راز د ګډې کمېټې په همکارۍ او د فدراسیون د وړاندیز له مخې د افغانستان ولسمشر د رسنیو زیاتې مالیې معاف کړې او په رسنیو یې پاتې مالیې په قسط ډول په اوو کلونو ووېشلې، چې د ولسمشر دا ګام د رسنیو د ملاتړ په موخه یو ښه ګام ګڼل کېږي.

همدارنګه یوه کمېټه رامنځته شوه، چې په عایداتو د مالیاتو قانون او د ټولنیزو رسنیو د قانون په تعدیل کار وکړي، ترڅو د چاپي رسنیو، اژانسونو او په سیمه ییزو رسنیو د مالیاتو معاف کېدو ته زمینه برابره شي.

د دې ترڅنګ د ژورنالستانو د ملاتړ صندوق په اړه باید وویل شي: د خبریالانو د خوندیتوب او امنیت د طرزالعمل په اساس باید د ژورنالیستانو د ملاتړ صندوق جوړ شوی وای، خو شاوخوا اوه کاله وړاندې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري په دې نوم صندوق جوړ شوی و، پرېکړه په دې وشوه چې یاد صندوق به ځواکمن کېږي او د فدراسیون څلور تنه غړي وګمارل شول چې د دې صندوق په اړه معلومات را غونډ او څېړنه یې وکړي.

اوس مهال یاد صندوق ۱۱ زره ډالر لري، او دکورنیو اوبهرنیو مرستو د ترلاسه کولو لپاره یو طرزالعمل موجود دی، چې په تطبیق سره به یې دا صندوق لا بډای او فعال شي.

ګډې کمېټې د تقنیني اسنادو د سمون او ښه والي لپاره هم خپلې هڅې کړي او د دې هڅو په پایله کې دخصوصي ټولیزو رسنیو د فعالیت او تاسیس څرنګوالي مقرره د افغانستان کابینې ته وړاندې او تصویب شوه.

د تعدیل شوې مقررې په اساس د رسنیو د امتیاز حق او بانکي تضمین په برخه کې ۵۰ سلنه کموالی راغلی دی.

همدا ډول په پلان کې ده چې د ټولیزو رسنیو د قانون د تعدیل طرحه د اطلاعات او فرهنګ وزارت له لوري عدلیې وزارت ته ولېږل شي.

## ستونزې او خنډونه

په تېر یوه کال کې ګډې کمېټې د لاسته راوړنو ترڅنګ یو لړ ستونزې او خنډونه هم تجربه کړي دي، چې په لاندې ډول یې یادونه کولای شو:

۱. د ګډې کمېټې د پرېکړو او تصمیمونو د پلي کولو په برخه کې پڅوالی او ځنډ له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي.
۲. د کورنیو چارو وزارت له لوري د خبریالانو پر وړاندې د ۶۹ قضیو د تعقیب او پلټنو په اړه بې غوري، چې وړاندې یادونه وشوه.
۳. د ځینو ولایتونو د کمېټو نه جدیت
۴. د ګډې کمېټې پرېکړو ته د ځینو خبریالانو نه پاملرنه
۵. د تقنیني اسنادو د پلي کولو په برخه کې د رسنیو د امتیاز خاوندانو نه پاملرنه

د دې کمېټې د ځینو پریکړو نه عملي کیدل د دې لامل شوي چې رسنۍ او خبریالان لا هم د خپلې کاري راتلونکې او کاري خوندیتوب په اړه اندېښمن واوسي.

همدارنگه ۶۹ قضیې چې د قضا، څارنوالی، بهرنیو ځواکونو او نورو اړوند کېږي او د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي نیمایي قضیې جوړوي، باید په جدي توګه تعقیب او وڅېړل شي ځکه د قانون پر وړاندې ټول یو شان دي او قانون باید په ټولو یو ډول تطبیق شي.

ولایتي کمېټو ته نه پاملرنه، چې د خبریالانو د خوندیتوب او امنیت طرزالعمل مطابق جوړې شوې دي بل خنډ دی، چې باید پاملرنه ورته وشي.

د دې شکایتونو زیاتره برخه له دې امله ده، چې د دې کمېټې غړي خبریالان، له کمېټې سره سمه همکاري نه کوي.

## د ټولیزو خصوصي رسنیو د فعالیت او تاسیس مقررې د نه عملي کیدو علتونه

د ټولیزو خصوصي رسنیو د فعالیت او تاسیس مقرره د ۲۰۱۵ کال په اګسټ کې د کابینې له لوري تصویب او د ولسمشر له لوري توشیح شوه، چې د ټولیزو خصوصي رسنیو اړوند ټول موارد او په دې رسنیو کې د کار او فعالیت څرنګوالی په کې واضح شوي دي. دا مقرره د هېواد د اساسي قانون ، د کار او ټولنیزو خصوصي ادارو قوانینو ته په کتو وضع شوې ده.

د دې مقررې تر تصویب وړاندې د هېواد د ټولو ټولیزو خصوصي رسنیو قراردادونه یو اړخیز او تر ډېره د رسنۍ په ګټه چمتو شوي وو.

د ټولیزو رسنیو د تاسیس او فعالیت مقرره هغه ټول موضوعات رانغاړي، چې په خصوصي رسنیو کې د ګمارنې او منفکې اړوند کېږي او د دوو اړخونو (کارکوونکو او کار ورکوونکو) مکلفیتونه یې روښانه کړي دي.

هیله کېده چې د دې مقررې په رامنځته کېدو سره به رسنۍ او خبریالان د کاري خوندیتوب په برخه کې نور هیڅ ستونزه ونلري؛ سربېره پر دې چې دا مقرره دوه کاله وړاندې رامنځته شوې او نافذه شوې ده، خو لا هم پرته له دې چې یوه ډېره ښه رساله یې وبولو او یوازې فزیکي شتون ولري، د پلي کېدو هیڅ څرک او اثر یې نه لیدل کېږي.

د دې مقررې د نه تطبیق او اجرا کېدو عمده لامل د رسنیو د امتیاز خاوندانو نه منل او د تطبیق په برخه کې د حکومت نه جدیت او ناغېړي بللی شو.

د دې ترڅنګ د رسنیو مالي ستونزې او د مقررې له تنفیذ وروسته تر یوه کال پورې د جوازونو نوي کول هغه علتونه دي، چې د دې مقررې د نه تطبیق لامل شوي.

## پایله

۲۰۱۷ د خبریالانو او رسنیو لپاره له تاوتریخوالي ډک کال و. په هېواد کې د نا امنۍ او بې ثباتۍ زیاتوالي او د خبریالانو پر وړاندې د تروریستي ډلو د ګواښونو د کچې لوړوالي ته په کتو او دا چې رسنۍ او د خبریالۍ کار دلته له جدي ګواښونو سره مخ دي؛ نو اړتیا ده، چې بېلابېل بنسټونه په خپلو منځونو کې همغږي واوسي په ځانګړې توګه هغه ادارې او بنسټونه چې د رسنیو او خبریالانو د امنیت او خوندیتوب په برخه کې اغیزناکې دي.

د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو زیاتوالی د دې لامل شوی چې خبریالان او رسنۍ په خپلو فعالیتونو کې ځاني سانسور ته مخه وکړي او خپل فعالیتونه او کاري حوزه یوازې تر هغو سیمو پورې محدوده کړي، چې له نسبي امنیت څخه برخمنې وي. د رسنیو او خبریالانو په منځ کې ویره زیاته شوې او د تروریستي پېښو په پوښښ کې ډېر په احتیاط ګام اخلي.

ډېری رسنۍ د خپلو کارکونکو او خبریالانو په ځانګړې توګه د هغو خبریالانو امنیت او خوندیتوب ته پام نه کوي، چې د جګړې له کرښې راپورونه او معلومات برابروي، په داسې حال کې چې رسنۍ مسوولیت لري، چې د خپلو کارکونکو خوندیتوب او امنیت ته پام وکړي او دا د دوی قانوني، اداري او اخلاقي مکلفیت دی.

له دې سره جوخت بیا د خبریالانو پروړاندې د ګواښونو دوام او زیاتوالی ددې لامل هم شوی چې د خبریالۍ په ټولنه کې د ګواښونو پروړاندې یو ډول مقاومت رامنځته شي. دا حالت بیا د خبریالۍ د کار د دوام په برخه کې داسې یو مهم فکتور دی چې ښیي سره له دې چې افغان خبریالان له بلا ستونزو او ګواښونو سره مخ دي خو خپل کارونه یې پرته له کوم ځنډ څخه جاري ساتلي دي.

د نا امنۍ او بې ثباتۍ له زیاتوالي سره ویره او احتمال دادی چې ۲۰۱۸ به د خبریالانو پر وړاندې له ګواښونو ډک کال وي. ۲۰۱۸ کال به له دې امله هم د خبریالانو پر وړاندې له نا امنۍ او ګواښونو سره مل وي، چې په دې کال کې د هېواد پارلماني ټاکنې ترسره کېږي. د کمېټې د موندنو په اساس راتلونکي ټاکنې به د خبریالانو پر وړاندې ګواښونه پراخ او خبریالان به نور هم زیانمن کړي

سره له دې چې د ګډې کمېټې رامنځته کېدل د رسنیو او خبریالانو د امنیت او خوندیتوب په برخه کې ډېر ښه ګام دی، خو له دې امله چې د دې کمېټې پرېکړې او تصمیمونه په سم شکل ترسره شوي نه دي، چندان ښه او مطلوبه پایله یې نه درلوده.

همدارنګه د ټولیزو خصوصي ر سنیو د فعالیت او تاسیس مقررې رامنځته کېدل هم ښه ګام دی، خو د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري نه تطبیق د دې لامل شوی چې لا هم خبریالان او رسنۍ د قراردادونو او کاري خوندیتوب په برخه کې ستونزې ولري.

د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې له ګواښونو او ستونزو سره سره په ۲۰۱۷ کال کې د ښځو لپاره دوه ځانګړې تلویزیونونه فعاله شوي، چې د خپرونو د محتوا له تولید څخه را نیولې تر مدیریت پورې ټول یې د ښځو په لاس کې دي. دا په رسنیو کې د ښځو د حضور او د دوی په خپل لاس د دې ادارو مدیریت ډېر مثبت ګام دی.

## سپارښتنې

د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی او د ګواښونو اوچت ګراف د بیان او رسنیو د ازادۍ د دوام په برخه کې د خطر کچه لوړه کړې ده. افغان حکومت باید د خونیتوب ګډې کمېټې د طرحې مواد په دقیق ډول عملي کړي او د امنیت او مصونیت په برخه کې د رسنیو، خبریالانو او مسوولو بنسټونو ترمنځ کاري رأبطه ټینګه کړي، خو حکومت په هیڅ صورت نشي کولای د امنیتي همکارۍ په نوم رسنۍ تر خپل نفوذ لاندې راولي او په کاري اجنډا کې یې ګوتې ووهي.

رسنۍ هم باید د خپلو کارکونکو او دفترونو امنیت او خوندیتوب ته کلکه پاملرنه وکړي. د کاري چاپېریال ساتنه او امنیت ښه والی، د امنیتي او مصوونیتي پالیسو او طرزالعملونو رامنځته کول، د کارکونکو د خوندیتوب په موخه د خوندیتوب او لومړنیو مرستو پروګرامونو دایرول، له جنګي لیکو د راپور ورکونې پر مهال د خوندیتوب وسایلو برابرول او د رواني درملنې پروګرامونو جوړول د هغو کارونو بېلګې دي، چې باید رسنۍ یې د ځان او همکارانو د ساتنې په موخه ترسره کړي. رسنۍ کولای شي په دې برخه کې د افغان خبریالانو دخوندیتوب کمېټې څخه مرسته وغواړي.

کاري او فزیکي مصوونیت باید د ټولو خبریالانو په لومړیتوبونو کې وي. هیڅ خبر او راپور د خبریالانو تر ژوند ارزښتمن نه دي. د خبریالانو هڅه باید ټوله دا وي، چې خپل ځان خوندي وساتي. د اړتیأ پر مهال خبریالان کولای شي د خوندیتوب له کمېټې سره په اړیکه کې شي.

د رسنیو ملاتړې اداري باید لا ډېره هڅه وکړي، تر څو افغان حکومت د رسنیو او خبریالانو د ملاتړ په موخه د دوی د مصوونیت لپاره لاس په کار شي. د ګواښونو کچې ته په کتو اړتیا ده واردمخه رسنۍ او حکومت خپلې تابیاوې ونیسي. دا ډول همغږي د رسنیو او خبریالانو د کاري مصوونیت په برخه کې ډېره ګټوره تامېدای شي.

په افغانستان کې خبریالان لا هم په خپلو ادارو کې له سختو ستونزو سره مخ دي. د کارکونکو ګمارنه او منفکي لا هم د کار قانون او د ټولیزو رسنیو د فعالیت او تاسیس د مقررې له مخې نه ترسره کېږي. ځینې رسنۍ حتا اداري پالیسي نه لري او پرته له دې چې د استخدام او منفکۍ اداري مراحل په پام کې ونیسي په ډېرې اسانۍ او سادګۍ سره خپل کارکونکي له دندو شړي، دا خبره خو پر ځای پرېږدئ، چې دوی ته دې په خپل وخت میأشتنی حق ورکړل شي. په ټوله کې رسنۍ یاد قوانین نه مراعتوي او ډېری وختونه د خپلو همکارانو په حقونو پښې ږدي.

اطلاعات او فرهنګ وزارت باید هڅه وکړي، ترڅو د ټولیزو خصوصي رسنیو د فعالیت او تاسیس د مقررې عملي کیدو ته مناسبه او موثره لار پیدا کړي. د دې مقررې نه عملي کیدل د دې لامل کیږي، چې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب پر وړاندې پرتې ستونزې لا هم پر خپل ځای پاتې شي. یاد وزارت کولای شي دا کار د رسنیو د ملاتړ ادارو په ځانګړې توګه د خبریالانو فدراسیون په مرسته ترسره کړي.

نړیواله ټولنه باید د خبریالانو د خوندیتوب او د رسنیو د ازادۍ د ساتنې په برخه کې روښانه دریځ ولري او په دې برخه کې ملاتړي پروګرامونه جوړکړي. د بیان  او رسنیو د ازادۍ په برخه کې د افغانستان لاسته راوړنې د نړیوالې ټولنې د مالي، سیاسي او اخلاقي ریښتینې مرستې پایله ده، نو نړیواله ټولنه باید لاس تر زنې پاتې نه شي او د دې لا سته راوړنو د له منځه تللو ننداره ونه کړي.